بسم الله الرحمن الرحيم

## د بربنډو فلمونو د کتلو په اړه د پوښتنې ځواب او پر حزب التحرير لګول شوی تهمت عمر داراګمه ته!

**(ژباړه)**

**پوښتنه**:

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته! زموږ قدرمن شيخ صاحب:

زه هيله من يم چې تاسې به زموږ د شيخ په توګه ګڼو هغو تهمتونو ته ځواب ورکړی وي چې پر حزب التحرير لګېدلي دي. له دې جملې څخه يوه موضوع چې ډېره پ هغه د بربنډو فلمونو کتل دي.

**ځواب:**

وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

د بربنډو فلمونو د موضوع په اړه زموږ موقف خورا څرګند او واضح دی. موږ دې ته په خورا وضاحت سره

ځواب ورکړی دی او زموږ په رسمي پاڼه کې يې ځواب شته چې په دې ډول دی:

«د بربنډو فلمونو د کتلو په اړه؛ دا يو ناروا عمل دی، دې ته له پام پرته چې دا انځورونه دي او حقيقي وجود نه دی. دا د هغې شرعي قاعدې له مخې چې پکې راغلي "الوسيلة إلى الحرام حرام" ***ژباړه:*** *هر هغه عمل چې د حرامو لپاره وسيله ګرځي، خپله حرام دی.* په دې قضيه کې حتمي نه ده چې وسيله دې خامخا په يقيني ډول د حرامو لامل وګرځي، بلکې يو وړوکی حدس هم په دې برخه کې کفايت کوي.

دا ډول فلمونه په غالب ډول حرامو ته لار برابروي او له همدې امله مخکينۍ ياده شوې قاعده پرې د تطبيق وړ ده. په همدې دليل د دې ډول فلمونو کتل يا ساتل ناروا کار دي.

په دې اړه چې د حزب التحرير ورونه او خويندي بايد د هغو مسلمانانو سره چې دغه ډول فلمونه ګوري څه ډول چلند وکړي: په خواشينۍ سره هغوی چې معمولاً دغه ډول فلمونه ګوري د خپلو شهواني خواهشاتو په لومه کې لوېدلي وي. له همدې امله د دې ډول کسانو نيکې لارې ته رابلل او له دغه ډول ناروا کار څخه يې راګرځول بې ګټې وي، پرته له هغو کسانو څخه چې د الله سبحانه تعالی رحمت پرې وشي. خو له دې سره سره بايد زموږ ورونه او خويندې په دې اړه له قوي امر بالمعروف او غوره حکمت څخه کار واخلي. ممکن هغه چا چې دا پوښتنه کړې د خپل کوم نږدې ملګري په اړه تشويش ورته پيدا شوی وي، چې په دې ډول کار روږدی شوی

دی. که داسې وي، دی يې بايد نېکې لارې ته دعوت کړي، له منکر څخه يې منعه کړي او له مناسب حکمت څخه کار واخلي، ترڅو الله سبحانه تعالی هدايت ورته وکړي او ده ته په دې کار سره اجر ورکړ شي، که د الله سبحانه تعالی خوښه شي.

اوسمهال مسلمانان د خلافت د نه شتون له امله له ګڼو بدبختيو سره لاس او ګريوان دي. د مسلمانانو لپاره اړينه ده چې خپل وخت بې ځايه تېر نه کړي، که يې بوختياوې په مباح چارو کې هم وي. نو دا به بيا څومره بده وي چې يو مسلمان خپل وخت د داسې ناروا کار په ترسره کولو تېر کړي، چې الله سبحانه تعالی منعه کړی دی. زما وروڼو! دا پر تاسې لازمه ده چې مسلمانان د غوره اعمالو ترسره کولو ته په مسلسل ډول، خو په حکمت سره را دعوت کړئ، ترڅو د دوی وخت د نېکو اعمالو، جدي کار او د خلافت بيا تاسيس په لار کې  په هڅو کولو کې تېر شي او امت له اوسنيو مصيبتونو او کړاوونو څخه وژغوري.» پای

د هغو کسانو په اړه چې تهمتونه لګوي، دوی په اصل کې د هغو کسانو له ډلې څخه نه دي چې په حق پسې ګرځي. که چېرې دوی حق لټولای، دوی به زموږ کتابونو يا رسمي پاڼو ته مراجعه کړې وای او همالته به يې واقعيت موندلی وای. دوی خپله سپېڅلي خلک نه دي او سپېڅلي خلک هغوی دي چې يوازې له الله سبحانه تعالی سره مينه لري او د زړه له کومې اخرت ته پر دې دنيا ترجيح ورکوي.

هغه کسان چې تهمتونه تړي، د داسې کتابونو حواله ورکوي چې په موږ پورې هيڅ اړه نه لري. دوی د هغې کبيره ګناه په اړه ناخبره دي چې د دې ډول تهمت په تړلو سره يې مرتکب کېږي.

**﴿إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ﴾** [يونس: ٦٩]

***ژباړه:*** *«بېشکه هغه کسان چې پر الله سبحانه تعالی له ځانه تورونه تړي، نه شي بريالي کېدای.»*

**ستاسې ورور عطاء بن خليل ابو الرشته**

**۱۴۴۰هـق د رجب ۹مه**

**۲۰۱۳م د مې ۱۹مه**

**ژباړن: سلطان وليد**